بیوسي

دعبدالهادي ریشاء

داشعارو دوهمه

مجموعه

۱۳۷۴

بیوسي

دعبدالهادي ریشاء

داشعارو دوهمه

مجموعه

۱۳۷۴

دمجموعې نوم ـ بېوسي
شــاعــر ـ عبدالهادي ريشاً
دليکلو کال ـ ۱۳۷٤ هـ.ش
د چاپ ځای ـ کراچي
د چاپ شمېر ـ پنځه سوه ټوکه
خطــاط ـ عبدالناصر

بسم الله الرحمن الرحيم

اهداء

دا د بېوسی مجموعه د هغو کوږداګو، زوی مړو او موږ، مړو پاک نيت ته چي د نابښادواولسو د بناد يــو صادقانه غوښتونکي وه او په دي ارمـان د خپلو مغزنو ککريو سره ډك زړونه د ځمکي په غېږ ورو ستل سوي دي اهداء کوم.

سریزه

درنو لوستونکو!

ما د پښتو کرزو دلمړی شعري مجموعې په سرکي ژبه کړې وه چي که مي توان وموند دوهمه مجموعه به هم د خیره سره چاپ کم. دادئ اوس وتوانېدم چي د خپلو اشعارو د (بېوسي) مجموعه دچاپه راوباسم او ستاسي حضورته یې وړاندې کړم. زه پسر خپل بول و درېدم، خپله گایه مي داده ترسره کړه.

گرانو لوستونکو!

ترهغه گړیه پوري تر څو چي د پښتو کرزو د مجموعې په باب ماته د محترمو استادانو، شعر پوهانو او عامه خلگو له خوا مکتوبي، غیابي، حضوري د تائید او تنقید حالونه را تلل

چي ويونكي كوربناديي به څه پكښې ووايي. نومي ولى په هوا زړه مي كښانده وو. كله چي پوه سوم چي د پښتوكرزووجموعه بېخي چاله نظره نده غورځولي، نه يې يو څيځه (نو) پر كش كړې دی، وروسته مي نو پرځان يك سنده كړه. زړه مي پر پښتى سو. يو څه ناڅ مي پر كښېنوست. چاچي زه د پښتوكرزو د مجموعې په تائيد سره مكتوباً ، غياباً اومخامخ غتولى يم. دوى دي د سيالانوسرسي. زه يې ممنون كړم.
او هغه كوربنادوچي د مجموعې پر بعضي ځايو تنقيد نيولى دی. د هغو تر داپاك دين وګرزم چي پريوه مخ يې نده كزلي. او هغه بنادمنو اوصاحب نظرانوچي بنه نظر او لاربنونه يې راته كړېده. دوى ته سلامه دي، غيبي سپاره دي مله وي، كوريې ودان.
ښاغلو لوستونكو!
مابه دغه د (بېنوسي) مجموعه دوخته لا چاپ كړې واى. خو زه د ژوند په نورانګل اخته وم. دبلي خواچي مي دچاپ د پاره خالږي څه غرانونه قول كړي وه. په هغه بنۍ د ګرانى داسي هبنه، باد نوتى چي د غرانو زيږه سكه يې داسي ورسولولې وه چي غران دغاز ارزش خوڅه كوي د خوشكى ترورن يې لا وزن سپك سو.

چي د چاپ د پاره نه بسېدل، نوره لېږه، د ډېره مانه دړلودل چي د هغه ټخه یو څه راواخلم او د چاپ مصرف ته یې ورکړم. نواریان، په اریان پاته وم، په چاپ پورې یې اوګاره وم. یو چانته چي مي امېد دړلود هغه ته چي مي وریاده کړه هغه هم تله تېره کړه، ځان یې وځړاوه، نه و ټوخېدئ. په داسي وخت کي نوماوارو سړی خاخا واسرنګه کېږي. دامي هم ځان ته عار باله چي ریشا' دي دیوې مجموعي د چاپ د پیسو په خاطر ځان د اوومحمد وپوروړئ کړي. دامي هم نسوای منلای، نه مي وړبلل چي لیکلې چاپ ته آماده مجموعه دي د غه سي ناچاپه پاته سي. باره مي زړه راغونه کړئ. ماویل" څه توکل یې پرهغه چي بارانونه اوروي".

راولاړ سوم، پر چاپ خانو وګرزېدم. ډېري چنې مي و وهلې. په ارزان بیه کاغذ پسي می بازارونه متې کړه. په چونګي، چونګي د صورت په سوهانګي مي دونه پیسي برابري کړې چي دا د بېوسۍ مجموعه په چاپ کړم، او ستاسي حضور ته یې وړاندي کړم. ماخو دا کارد - نس په خوزو وکئ. اوس نو پر تاسي ده چي نوکئ وخت ورو باسئ او دېټلا ویلو زحمت پر ځان تېر کړئ.

دا چلي ما د بېوسۍ په دغه مجموعه کي
سل (۱۰۰) شعرونه وکښل.

د دې کراستي یا گدلي شنل په تاسي اړه لري.
زه به تر هغو پورې غابن وچیچم، چي تاسي يې توري و
سپیني شنل سوي وبړي او خپل د قضاوت د ترازوو پلو
ته ور غور څوی.

تاسي ته به یاد وي چي د دې شعري مجموعې شعرونه
د ډېره وخته ماته پراته وه. ما د پښتو کرزو د مجموعې په سر
کي لا دا خبره ستاسي تر غوږ تېره کړې وه. د هغه جملې
څخه مي بعضي اشعار د چاپ د پاره د لته راېیل
کړه. او بعضې نوري لکه :- د
لوی استاد علامه عبدالحي (حبیبي) مرثیه چي د (پښتو ټولني)
په مجله کي د اکاډمي له خوا نشر سوې ده. د عبد الباری (اشنا)
وېرنه د کندهار په مجله کي چاپ سوې ده. بر علاوه (۵۰۰) پانې
يې گنتنی، او نشر سوي هم دي. د محمد گل (نوري) د مړيني
په یوه تلین کي چي د سرحداتو او قبائیلو د وزارت له خوا نیو-
ل سوی وو، ما هلته هم د ده په یاد یو شعر ووایه چي البته
نشر سوی به وي. د جمال عبد الناصر مرثیه چي ما د ده
د مړيني په دوهمه ورځ وویل، بیا مي ومصرته د ده د فتر
ته ولیږل. کا گارین چي لمړی ځل د فضاء په سفر ولاړ او بیرته

را کښته سو. د ده په افتخاري هم په هغه شپه شعر جوړ
کړی، او د ده د فترت مي پس له څه وخته واستوی چي خبر
يې د (ازوستيا) روسي جريدې خپور کړی. د لمړي پلا د پاره
چي (آرم سترانگ) امريکايي پرسپوږمۍ قدم کښېښود، ما د
ده په شان کي هم يو شعر جوړ کړی. په يوه پېته کي مي
ثبت کړی، نو گوره چي هغه پېته به اوس چيري وي؟ د غسي
زمانو ر شعرونه په مختلفو جريد و په مختلفو وختو کي خپاره
سوي دي. لکه :ـ د اولسي جرگي په مجله کي، د سولي د
جبهې په جريده کي، د اوسني ليکوالو په دريم ټوک کي او نور
و اخبارو کي چي زما سره يې نه تاريخ سته نه مي شعرونه ياد دي.
خو اوس هم يو څه شعرونه د ټومني
په اندازه راته پاته دي. که نور سره برابر سوه بيا به نو
د خيره سره خبري کوو. چي بيا د بلدي د گوروان کاندرا-
ونه سي. اوس يې د چاپ وعده نه کوم.
خوږو دوستانو!
که ستاسو دا خيال وي چي د دې مجموعې اشعار به دونه
شيريني ولري لکه شيرپيره يا به داسي مفرح دل ودماغ
وتسکين د هندهٔ اعصاب وي چي په هرگونډي کي به يې ترنگ
خوشي پرته وي. نو دا گمان مو بېځايه بولم. ځکه پدې شعرو
کي د ۱۶۰ کلو د يې وږلو د څگر خزکي، د جز غاله مغزو جزکی،

د زړه دزلزلو چغکي او د زړه درزونه، دردونه، غمونه ،انعکاس او نقاشي سوي دي. که څه هم ستاسي به خوا دروو هي. خود يپلادو يلو توصيه يې زه څکه درته کوم چي، تاسي بيا هم د اولسو په جگرخونيو کي ورسره گډ او شريک سئ، چي دوی يوازې په غم کي پاته نسي او ړ دي تورو ه کمبله ټوله داغ ديدگان او غمجن سره کښيني او پاتا سره وړکي وروسته د غم کمبله ټوله کړي.

دا پلامي د دې مجموعې نوم په دې خاطر بېوسي، وټاکی، چي ټوله ناخوالي، ساړه اسويلي، دردونه، نادودي زموږ بېوسي ده. هو. ذهني، جسمي، مالي، او نور رقم، رقم بېوسئ زموږ په پښه دي. تر دې حده پوري بېوسه او بېر- ندوکي يوچي د پيشي د تښه څخه هم بېريږو. هانور خولاپريږده. دا زموږ بېوسي نه بولئ؟ چي ړ يوه ټيک يې راته اينبې ده. په سرمو راته گوري؛ توري يې راته پرتندي دي. دناترسو تر چپلاخه لاندي يو. د سياه سرو ژړاوي، بنراوي، الله لاوي دي. هلکان ځان د ډاگه، ډاگ وهي، پر خوله خوله لوږو د پوړته کيدو څوک نسته. په سترگو کي مو خاوري رډه، بډپاشل کيږي. ټا تو بئ مو ورك دئ. دخدای پراوچه مو څوك نه پرېږدي. په هرځای کي شېرخطيان يو. په جيب کي شانزده، په کندري کي سپيرونې ندئ پاته.

لڅي وېتي شتمنۍ موځغلوي. دخپلو هستيو ېسر په چيچه ايستلي يو. تېغونه او اړزي لا دلاسه راباندي صافوي. د دغه واقعيتو په نظرکي نيولوسره مي د دي مجموعي نوم «ېوسي» وټاکۍ. چي د اکثرو جملو څخه هم دا ښکي او ېسو سيوړغ او مفهوم راوزي. موزېوسه نه وو خواوس زموږ وس غتو وسدارانو وړي دي.

خاوري عبدالهادی ریشاُ

منـــــه

زما کشري زوی (عبدالناصر) چي دوستان يې (کبلی) بولي راته تينګ سو چي ستا د غه د بېوسۍ مجموعه دا ګنبت د چاپ د پاره زه ليکم. ماورته وويل چي "دا خو د زوی زېږی؛ دی. مګر ستا خط کله د وايې دی؟" خو ده تينګار کاوه. ويلې "د طوا؛ تکی؛ دی که يې بېله ما بل څوک وليکي؛" ورسره ښه مي کړه. ماويل "ودي ګورو". هلک رهي سو. د خوش نويسۍ يو کتاب يې پيدا کی؛. ورته وجوغېد ی؛. اندر په يوه، يوه نيمه مياشت کي په خط کي دونه باولی سو چي پر خط يې زما باز کښېنوست. مجموعه يې په ښېړه توګه چاپ ته آماده کړه.

دی ډېر ذکي، پوه او مستعد زلمی دی. استعداد يې د ستايلو وړ دی؛. مګر نوښه وکوچي پر هيواد مود بلاسا ختلي ده. د دغسي ډېرو مغزنو، مبتکرو او سالمو فکرو خاوندان د بل په خاوړه کي ترټلي، لی به ليه او تاک له تاکه ګرزي. بيا زه ګنړه په ډوډۍ پوري حيران دي. د استعداد د روزلو او تحصيل استادان يې يا نسته يا هغه بخپله بخوله اخته دي.

زه اول د ده څخه د دي مجموعي د ليکني د زحمتکښۍ منه کوم. بيا يې استعداد ستايم چي په لږ وخت کي

دونه اَوْرَه سو چي مجموعه يې يک لوخته صافه وليکل. دا دئ نن يې خط ته ستاسي سترگه هم وراوړي.

خدای دي ده ته برکتونه ورکي. وزر دې وزيږي.

دانسانيت په هره برخه کي دبريو غتې برخي ورته غواړم.

- ريشاء -

فهرست

لومړی

شماره ـ عنوان	مخ
۱٦ . ملل متحد ته وایم	۱۹
۱۷ . که راتله تو پاخه راځي	۲۱
۱۸ . داځه سوران راغلئ دئ	۲۲
۱۹ . یاران یې بد راه کړه	۲۳
۲۰ . دتولوزړونه دک دي	۲٤
۲۱ . تر مرګه خوب	۲۵
۲۲ . وې شرمولو	۲٦
۲۳ . یاري صداقت غواړي	۲۷
۲٤ . مخ یې راو لګاوه	۲۸
۲۵ . دغه دئ ایثارنو	۲۹
۲٦ . کفن کښی	۳۰
۲۷ . بې باوره وعدې	۳۱
۲۸ . سل د زرګریود ګر	۳۲
۲۹ . پس ګردنه	۳۳
۳۰ . نوبتي مرګ	۳٤
۳۱ . نامیندي	۳۵
۳۲ . حق ده پېره	۳٦
۳۳ . لرګي یې پکاردي	۳۷

شمېره-عنوان	مخ

پنځم

شماره ـ عنوان	مخ

لوی څښتن

مُصَوِّر، خالق، مالک د کائیناتو
ته لایق د حمد، ثنا او د صفاتو
تا راکړي دي بې شمیره نعمتونه
اې منعمَ! معطي د انعاماتو
بینده په زره آګاه د هر بنده یې
مهربان یې نګهبان د موجوداتو
چې ستا حقه لار په صدق عملي کړي
هغو یو وړه ستا رضا په عباداتو
ته معبود یې عبادت ستا لره ښایي
پرستش نه کړم د بت او فلزاتو
د شیطان د تیرایستلو پناه غواړم
چې ولاړ نه شم د خو نکارو پرعاداتو
د صالح نیکو کارانو عمل راکه
ما خوندي کړه د روزګار د جنایاتو
ته هادي یې هدایت هادي ته ورکړه
دی خواستګر ستا د مقبولو هدایاتو

ربّ ته دریږو

مسلمانان چي د خپل ربّ څخه جنت غواړي
هسي مولا له بندګانو عبادت غواړي
هادي قرآن چي بندګانو ته لیږلی ربّ دی
باید په دوړو کي پروت نه وي تلاوت غواړي
مسلماني تش په خوله نه کیږي عمل ورسره
هم اوامر هم نواهي مطابقت غواړي
که مؤمنان موږ یو له بله سره وروڼه بولو
همدا اخوت په صداقت، مینه، الفت غواړي
که څوک یواځي لمونځ کوي زکاة بیا نه ورکوي
نیمي آیات مني د نیم څخه فرقت غواړي
د همسایې سره اسلام د وروري ژوند خوښوي
هم د هغو سره دوستي او مودّت غواړي
قتل، قتال، جنګ، جدل، فسق، فجور دی منع
سوله، صفا خوښوي نه چي عداوت غواړي
څوک چي تقوا لري هغه وي و خالق ته نږدې
څښتن عادل دی د بنده هم عدالت غواړي
خدایه ته زموږ عمل ته مه ګوره خدایي ته ګوره
ریشا په ټول جهان کي سوله امنیت غواړي

اې خاونده!

پاکه ربه ته خالق زه دې بنده يم
ستا له امره څخه ليرې افتاده يم
په ګناه کې يمه ډوب ترسره پورې
د رحمت اميد لرمه درمانده يم
شيطانانو يم د لارې اړه ولس
اې ستاره اعفوه غواړم شرمنده يم
په دنيا کې مې هم هيڅ خوانسوه سمه
په محشر په خپل عمل سر افګنده يم
بندګان واړه وتا ته ياغي سوي؟
او که زه په بينا ستر ګونا ديده يم
نه ورورې، نه اخوت، نه مؤدت سته
پر دې حال به لا تر کله پاينده يم
زما د ژوند چارې راسمې کړه خاونده
زه ريښا کله د چار وساز نده يم

د غه حال دئ چي نه چاغیږو

راته وايي چي څوک مخامخ دړواغ
دهغو خلگو لرمه پر زړه داغ

په خوله قال الله وقال رسول وايي
په خوړک کي مردار خوري لکه زاغ

په مجلس کي يې د ژبي لمبي وزي
وي د ننه زړه يې تور لکه څراغ

چي د زړه او د خولي لاري يوه نه وه
منافق دئ غوړه ژبه دا ابلاغ

چي يې قول عالي صفات د پاك مؤمن وي
چيري و باسم د دې سړي سراغ

ولي نسي رنګارنګ ګلان خرجوه
چي د ګلو پر باغچو ګرزي الاغ

که په رنځ د خونرېزي سړی اخته سي
نه جوړېږي د خاکشير په نبا داغ

هر ګړی د نابوبره مرګ په ګروم کي
ريښا ځنګه څوک پر دې حالت سي چاغ

لبوه هم پرهیز کوي؟

یا پیدا دئ تباهي لره چنګیز　　بدلوي جګي کوڅې په خاکریز
نعمتونه کړي بدل په تورو خاورو　　یا بې لاتن کړي په یوه ګړي پالیز
یا نبې راغلي بلبلان وزري د باغه　　وا به نه وړي له کارګه د بلبل ریز
یا رمباړه، یا شیشنۍ، یا دړاپې دل دي　　حیوانان کله ویلی سي تیریز
درنده حیوان دئ هرچا پیژندلئ　　نه پوتمیزي د دوی پوست په قناویز
سرچینه که سوه مرداره تول مردار سي　　که بهاند تر آخره وي کاریز
د مردار لا بس په خوړ کې ډیر حریص دئ　　چالیدلئ د کارګه، لبوه پرهیز؟
یو د بل حیات ته وینې د ځان ورکړي　　بل جلا د غونډي د وینو وي خونریز
بنه و بد اعمال د هرچا جلا کیږي　　که څوک ولري د عقل والبیز

پر ریشا، د نفس، هوالبشر سي راغلي
اوس به څرنګه کوي ځني ګریز

حالونه مي راوړي

آ ښاد منوا! ما غمونه دي راوړي   ما د ګړوب هیوا د حالونه دي راوړي
تعول ژوندي يې پرتې باندي څڅېدله   او د مړو مي تصویرونه دي راوړي
یو مخیځه وطن واړه هدیره وو   د قبرو مي فریادونه دي راوړي
سوخته دله پرهار زړونه هلته پاته   ما یې تش آه و دردونه دي راوړي
په نکریځو سره لاسونه هوري ښخ دي   ما نامراده ارمانونه دي راوړي
ما د ساندو د ژړاند وسترګو اوښکي   سیلابونه، سیلابونه دي راوړي
په اوربل یې د اوربل ویښتان پاشان سوه   شاعر څو شعري تارونه دي راوړي
بهارونه غوټۍ نه وې غوړېدلي   د خزان مي ژړ بلګونه دي راوړي
پر دیوال ماغزه پراته وه د بېبیانو   د کوڅې مي ولونه، ولونه دي راوړي
د مرګ وزي په ژوندیو پانېدله   په سند کي مي هډونه دي راوړي
روڼ اتیانو لاتر کله روژه نیسي   دا دې ما روژه ماتونه دي راوړي

دا چي نن له دې محفله مستي ولاړه
خوریشاه د غم بستونه دي راوړي

بېچاره پروفيسر

ترسر دود وزي په زړه کي اور بلېږي
د کوړي پشان د زړه خونه سوځېږي
په ظاهره روغ، د رون لړمون پخته يم
نا خبره د سباچي څه راکېږي
زما په رنګ تاړاک بل چاندئ ليد لئ
صورت نېږي، زړه لړزېږي، سترګي لوېږي
د علاج دارومي ندي پيدا سوي
پروفيسر مي په تشخيص لا نه پوهېږي
ډير تېروني دوست د رنځ پوښتنه نکړي
بېګانه خوي په مرګ لا خوشحالېږي
ريښتيا مرګ ته انتظار باسه مرګ لنډ دئ
خدائ خبر چي د ژوند چاري دي سمېږي

غم ځپلي اولسونه

پاته یم یارانو د غمجنوارمانو سره
نسته شیرني ژوندون تیریږي د ترخو سره

نه لرم خندا پر شونډو غم لرم، غصې لرم
ژړه کي ګلومه ځپل دردونه د غمو سره

چارا ته د عقل اساسي لاره ونه ښوده
شپه او ورځ تیریږي د پرسد ولېونو سره

خلګو اور اخستی دی په اوښکو کي غوټي وهي
هسي آموخته سوه د سېوو د تودو سره

ژر به آباد یده اولس له ګرمه سړه وخیږي
لار به پري کوي د وېاندي تګ د کاروانو سره

مه نامیده کیږه ریښا غم غصې دي لیري کړه
ځان دي کړه نژدې د غم ځپلو اولسو سره

لامونه دي پېژندلي؟

دغه څوک دي چې يې وژني هم يې سوځي؟
دغه څوک دي لوټوي چې يې دوړځي؟
دغه څوک دي چې د وروړ د جيب يې باسي؟
په رقم، رقم نومو يې خنا باسي
دغه څوک دي چې ښهي خلگ د کوره؟
دغه څوک جلا کوي خپل ورور د وروره؟
دغه څوک دي چې قبرونه يې ډېرېږي؟
کور، کوڅه، مسجد ښارونه يې نړېږي

دا د دې عمر زمریان که چغالان دي؟
چې خورک یې د چپل ورور د کور چرګان دي
دوې پرڅه دي تباهي ته جو غبږدلي؟
دا بې رحمه دا بښیلي، ښوېدلي
دوی څه وایي، څه کوي، څه یې مقصد دئ؟
چې هر ځای یې اوربل کړئ د حسد دئ
آیا پیژنئ یې دا ناترسه څوک دی؟
د سور سات او بس چې هر کاله ته چوک دے
خلګو ښی سئ بس ته، پرېږدئ چپل خوبونه
د ریشا سوالو ته ورکړئ جوابونه

تشي د خولې خبرې

د نړۍ بشر خواهانو، چیرې ورک یاست؟
د مظلوم طرفدارانو، چیرې ورک یاست؟
زموږ له حال څخه خبر یاست او که نه یاست؟
مهربانه پر خوارانو، چیرې ورک یاست؟
د افغان پر سر وخته ناورین سیده دی؛
بشر دوسته انسانانو، چیرې ورک یاست؟
سترګې پټې دې، که حق نسي لیدلی؟
حق بینانو بینایانو، چیرې ورک یاست؟
انساني عاطفه، رحم ولې نیست سوه؟
رحم دِ له هستمندانو، چیرې ورک یاست؟
افغاني ملت په وینو لړند پروت دی،
بې سرحده ډاکترانو، چیرې ورک یاست؟
بشري حقوق د خولې تشې خبرې
د عمل وفادارانو، چیرې ورک یاست؟
توازن نسته پلې سپکې دړنې سوې
په نړۍ کې منصفانو چیرې ورک یاست؟

ترغدا سو د سلاح کاروان د مخــــه

د ترافیك پیره دارانو، چیري ورك یاست؟

د اوربل قومانده پېر ژر عملي سي

د اوربند منصبدارانو، چیري ورك یاست؟

د افغان نجات ته کمــــه لاره وزي؟

مخکښانو، رهبرانو، چیري ورك یاست؟

بشري نړۍ قرض داره د افغــــان ده

بندي غاړي دیندارانو، چیري ورك یاست؟

د امېدسترګي وتا سوته کږې دي

اې! د سمې لارویانو، چیري ورك یاست؟

د کارګانو آوازونه پــورته کېږي

له دې باغه بلبلانو، چیري ورك یاست؟

په طعنه په اشاره به څه سي جــوړه؟

خولې کړئ خلاصي شاعرانو چیري ورك یاست؟

ریښاء ورك دئ په تیاره په دربېلوکي

چیري یاست مشعلدارانو چیري ورك یاست؟

د خپل زوره ناخبره

په ښایست کې قافلې دې مخ ته اوړې
خوولاړې یې د تورمخ غلام و دړته
په مړانه دې د ېبان دې چپه کړې
په قوت کې غروړلاړې یې هرخطرته
اې د خپل مړانې، زوره ناخـــــبره!
توره چا ده تېره کړې ستا وسرته؟
ځوانې تختونه چاکړه دړې وړې؟
چې پر وچه ځمکه پروت یې وسره لمرته
په برېتو او په شمله دې څوک اخته دي؟
په پړونې کې وړل کېږي و بهرته
سپینه وږځ دې د غفلت په خوب کړه ګړه
توره شپه به تېره وي و سپین سحرته
د بابا او د نیکه نوم دې هېر نسي
بد نامي بیا پاته کېـــږي وپسړته
وروستی عمر د ریشا د بې آبه سـو
وچه دړختنه رېبېږي وثمـرتــه

جنګ پرغله دی

که د ورڼو ترمیانځ نه وي یکرنګي — زندګي د هغو نه ده زندګي
د ملت ترمیانځ که یو وار نفاق راغی — پرور غورځي هرڅوکه اوهر بنګي
دغه حال پر افغانانو نن راغلی — د نفاق اساس یې ایښی فرنګي
د غیرت بګړۍ وغاړې ته لوېدلي — افغانان دي یو د بل سره جنګي
ډېرین زړه وال د ورور په مرګ کړي فخر — غواړم هغه زړه اهاک چې وي سنګي
چې د بل په اشاره خپل ورونه وژني — تر دې نسته بله لویه بې ننګي
نه آرام او نه امید د هوسایي سته — زوړ و ووړ ژوند تېروي په خلوت تنګي
چې پر زړه یې د روپو د حُب تاپې وي — د هغو ظاهري خوی وي پلنګي
په میدان کې چې چرګان سره ییرسي — لمړی ضرب یې وي پر تاج د کلنګي

ریشا څوک دي پر سورنا کله غوږ نیسي
چې وي پوره ته آواز و نه سورنګي

د لته ګذاره سخته سوه

دسپین سرو دنا زوې بد راځي
دسپین زیرو دګیلوې بد راځي
مشران چې دخیل کور مسئوله نه وه
دکړو وړو څه دهغوې بد راځي
چې په کورکي نه تنظیم نه دسپین وو
له دې ګډ وډ تنظیموې بد راځي
چې نه قول نه وعده وي نه وراشه وي
له دروا غو دوعدو مې بد راځي
دلائیل منطق چې نه وي په مجلس کي
وچ دلو یو آوازو مې بد راځي
فیصلې چې په عمل کی تطبیق نسي
پرکاغذ د فیصلو مې بد راځي
هسې دیرشیان موجود سته بدمې ایسي
خصوصاً یاد جنګوې بد راځي
ریشاولا پرسه یو ې بلې سیارې ته
ستا له دې نصیحتو مې بد راځي

زوی مړی لاس نه اخلي

سحرګروځه جادو را باندې کړي
عقل فکر یې دی زما له سره وړي
د خپل ځان سره مې واک واختیار نسته
کشوي مې لکه مزغاره کې پړي
د ژوندون د پاره مخکه راته سره ده
د مرګي په کټ کې پروت یم لکه مړی
دکم درد څخه نالش وکړمه خلګو
د وجود هره حصه مې ده کوږې
چې یې غونسته هغه هوده یې پوره کړه
پرځه لاس رانه نه اخلي زوی مړی
د دوو ورونو په لاسو کې سنلاخې دي
یو دابل حلالوي لکه اوزګړی
د خپل کوره یې ریشا بهرته ویوست
پاتې نسو په کاله کې د کور غمړی

للو، للو

الاهو للو، للو، خوب دي درسي دلیمو للو،للو آباهی،آباهی للو للو
د ستر گو تور د زړگي سر للو، د توري شپي ژړیده لمره للو، پر د بیمنا نوسي لاس برده للو

الاهو للو، للو

اوس دي خوبونه کوه، پاک خوږ کونه کوه، پر موږ نازونه کوه
ځان مړه وه په شیدو، خوب دي کوه تر سپیدو

الاهو للو، للو

سبا قومونه روزي، کار له غښتلي پالي، دوی ته دلوړي ساتي
ښتن دلویو کارو، د نوي، نوي فکرو

الاهو للو، للو

ته به اقوام ویښوي، ته به عوام ویښوي، بشر تمام ویښوي
ته د غفلت د خوبو، د جهالت د خوبو

الاهو للو، للو

نړۍ کي سپین دي که تور، هر یو د ځان بوله ورور، نړۍ د تولو لوی کور
سره یو ځای د قرنو، پر د بنتو غرو و رغو

الاهو للو، للو

وچه بیدیا اوبه وه ،خړې غونډۍ شنې کوه، زوزان د بیخه ریبه
زړونه راباسه د غرو ، وتړه بند پر رودو
الا هو للو، للو
پوره که لوړي هیلي، د مرګ سلاح کړه ویلې، وایه د ژوبډ لې
وړک کړه خطر د جنګو ، خلاص کړه بشر د لمبو
الا هو للو، للو
زما وصیت و منه، حق عدالت چلوه، خدمت د خلګو کوه
د غه قیمت د شیدو، ستا څخه غواړي ببو
الا هو للو، للو
د خلګو زړه وساته ، زړه یې د زړه وساته ، لوی او واړه وساته
عالي انسانه للو، پر خواري ګرانه للو
الا هو للو، للو
آینده ښاد اوسې، آرام، آباد اوسې، لوی سې د مراد اوسې
زما نازولي زړګو! ، چې هېره نکړې آدکو
الا هو للو، للو

ملل متحده ته وایم

داده د انصاف، د عدالت، د حریت نړۍ
دا ده د بشر، بشرخواهی، انسانیت نړۍ
دا ده د انسان د ترقۍ او عصریت نړۍ
دا ده پرمخ تللي دوروره او تمدنیت نړۍ

دا جملې که هرچا په رشتیا سره ویلي وي
نن رېښې د ظلم او ستم باید ختلي وي

آیا استعمال دا سلحو تاسي ژوندون بولۍ؟
جنگ وانسانانو ته پیشرفت او تمدن بولۍ؟
اوکه پر عوامو بمباري عصري قانون بولۍ؟
و وایاست رشتیا چي دغه عقل که جنون بولۍ؟

زه د ورور وژنه خود خواهي وجهالت بولم
زه د انسانانو جنگول لوی خیانت بولم

جوړه پر بې دفاع خلگو ناورین دی مصیبت دی
دوی وایي چي جنگ داخلي کار د مملکت دی
ځواند! هسي نه ده د بهر مداخلت دی
هر ځای چي جگړه وي دیو، ان مسؤلیت دی

هر جنگ په داخل کي د خارج څه تمویلیږي
دخل دخارج وي دسد خلگ په پوهیږي

غونډې د یو.ان د سرغنه وعاقلانو وي
داسي معلومیږي چي بازي د هلکانو وي
څکه فیصلې بې نتیجې د انا یانو وي
یا د فیصلو تعمیل پلاس د استادانو وي

ورډه د یو.ان استازي ژرچي استعفا وکړي
یا دي د بې وزلو د نړۍ سره وفا وکړي

بعضي به پوهیږي چي جنگونه پرغله وي
څکه فیصلوکي د زورگیر درنه پله وي
هرضعیف النفس د زورورو پر پله وي
نه دئ عدالت چي ناحقیونه شله وي

خود به په نړۍ کي تږدې لیري لمبې بلې وي
خود به جوړي سوې د زورگیر پرطرف ته لې وي

جوړي تباهۍ ته کارخانې د سلاح گانو دي
گټي د غټانو تاوانونه دکچنیانو دي
ناز ونعمتونه د قوي تفنگدارانو دي
واره اختیارات فقط پلاس د څوکسانو دي

زه ریښا انسان ته انساني خویونه تل غواړم
یا د غه نړۍ د خپل مدار څخه وتل غواړم

که راځله نو پاخه راځي

نه راځي چې تللي دي ژر نه راځي
کله که راتلله دېر پاخه راځي
ګوري چې لاځو سرونه پاته دي
تش میدان ته بنه په پوره زړه راځي
اوس د ګل هوسو ګلستان نه دی
دلته نوی اور په بلیده راځي
اوس یې د راتګ پاسپورټ په لاس نسته
دوی نه پرنخره نه د یوالـه راځي
یو ځل چې د غم کمبله تولـه سوه
بیا په وراوکونډي د واده راځي
هر وخت چې سرک یې او پاشي ولید
هغه ګړی پلي او سپاره راځي
یو کرت که لمر تر اوره ووتی
هلته به ریښاء دلمر وړانګه راځي

داځه سوران راغلئ دئ

کله بیا غوړېږي د دې باغ غوټې
ژړخزان پر شنه بهار راغلئ دئ
خپل باغ ته ښوک کله تیریدلای سي
هلته درنده حیوان راغلئ دئ
ماتي ککرۍ ځمل بد نونه دي
نن ورځ د سوټي دوران راغلئ دئ
زه چي آینده ته نظر واچوم
زما نظر ته وران جهان راغلئ دئ
او ښکي د یتیم دوچید ونه دي
دوی ته طوفاني باران راغلئ دئ
خلک خوري، ډېري خوري، سکروټي خوري
دا رنګ خورنده انسان راغلئ دئ
دا سي خورنده پهلوان ژرځملي
دوی لره د لري زیان راغلئ دئ

یاران یې بدراکړه

زما خوارہ یاران دي چیري راځه تللي؟
دوی دي تللي که بل چا دي تیر ایستلي؟
نا بللي بېګانه اوس راته ناست دي
ما په دوی کي څوک ونه لیدل نباغلي
نه خبره ، نه یې ژبه ، نه وراشه سته
نه یې زموږ د پرګنو حقوق منلي
دلته یو د زړه خوا خوږی پیدا نسو
کندوالي ، یا تشي تورې دي کوډلي
اوس به چیري زه خوارہ یاران پیدا کړم؟
چي پر لوتموتپو ناست وي د کلي
شکایت ، درد وغمونه مشترک سوه
ریښتیا ستا په شان دي تول پر زړه ویشتلي

د تولو زړونه ډک دي

چاته تش کړمه خپل ډک، ارمانجن زړه
کم طبیب دی چاره ساز، د خوږ من زړه !
پاک صفا زړه مي د رحم پیدا نه کړی
چي يې ګوهر هر ځای وینمه، خیرن زړه
د دوستۍ زړه چا وماته ترديې نکړ
نه خوږيږي زما پر حال، د دښمن زړه
د نابلده زړګي حال چي چاته وایم
ترما ډیر د هغه خوار وي، غمجن زړه
که په سینه کي د میني خوږ من زړه وي
نه جوړيږي په تعویز، د مین زړه
د ډیر ګرومه ځنځه ډک زړونه ځوانان سوه
زنده دل به وو پخوا، سل کلن زړه
لکه نور زړونه چي ډک د ارمانو دي
د ریشا هم هسي ډک د ارمان تن زړه

تر مرگه خوب

زړه له دېره ګرومه څه پاڅسوب کړي
عقل سوکه ورته نن لیونتوب کړي
مینه د یار زړه غواړي اخلاص غواړي
نه ښايي لې زړه چې مینتوب کوي
سړي چې د جهل امبار ونه وړي
خوشي دَی ادعا د سړيتوب کوي
چاته چې عادت د خوب ګولۍ سولي
پروت به وي تر مرګه پورې به خوب کوي
ګیند غونډي چې سر ټک د هوا څه سو
کله بې لغتې وړاندې تـوب کوي
ګیند بخیله پورته خیالات نه لـــري
واري د لغتو پې لوړ تـوب کوي
څواني ککرۍ تر خاورو لاندې سوې
زوړ ريشا قبر وته مشرتوب کوي

وي شرمولو

ډیر و شرمیدلو تر هر چا پورې . څو مره خجالت یو تر دنیا پورې
هر ځای رېشخندې د بلا سره یو . څه جواب به وا یو تر بابا پورې
سترګې چې سي وچې بل څوک نه وینې . مرې سترګې ولاړې وې تر بینا پورې
څونه د رواغان موهم وانه وړېدل . حق واړه باطل سوه تر رښتیا پورې
ډېرې د وعدو خلاف ورځې وسوې . نه ورسیدلې تر وفا پورې
دا ژمنه یې هم د باور نه بولم . سل ځله یې وکړې تر سبا پورې
ځنګه بې تمیزه زمانه سوله . خاندي د رېښا خوار په ژړا پورې

ياري صداقت غواړي

ياري نه کيږي په زور محبت غواړي
هر قدم د ميني غور، د قت غواړي

چي رضا د يار حاصله نکړي ګرم دئ
څوک چي ګرم سو هغه ولي جنت غواړي

رسيدل د عشق پر لار تسليدل دي
خوب وخيال دئ چي په مفته وصلت غواړي

په آخر کي هغه پاته شرمنده سي
چي د يار د خوښي پر ته عزت غواړي

د غرور د خره د شا به راشوه سي
غمازان چي مي د ياره فرقت غواړي

ريشا صاف اوسه په مينه محبت کي
يار په مينه کي تنها صداقت غواړي

مخ يې راولګاوه

زندګي راته زندان سو . ديوالونه نړولانه سوه
اولادونه اتکړه دي . آزادي غلامانه سوه
څه شي وکم؟ چيري ولاړسم؟ . ډېره دي وخپل منفور بيم
کشران مي په خوله نه دي . مشران مو نازدانه سوه
په ما مخ دئ لګيدلئ . څوک مي غوږ پر کړونه ږدي
دوروستي عمر خواري دي . ښادي ولاړه بيګانه سوه
څوک مي ولي په ډبرو؟ . څوکلوي مي، غموي مي
چي پرسدي ځان بللئ . هغه واړه ديوانه سوه
ولي مينه الفت ورك سو؟ . ولي هيڅ ترحم نسته؟
ولي عقل و لاړئ پسنبوته؟ . چي پرجهل روانه سوه
اختيارات مو دځان ندي؟ . که ډبل ډول نه غښيږو؟
که موسد دسره تللي . چي کاروته خصمانه سوه
بې چاره "ريشا" خوريږي . وروستي عمر پر تيريږي
دوړوپه لاس کښيوتي . نړه دګرومه پټانه سوه

دغه دئ ایثارنو

نورموغټ کړي غټه وويې لانور
ځان موټيټ کړئ ټيټه وويې لانور
څومري سپک سوي يو د بل په تله
آیا تر دغه سپکو ويې لانور؟
پخپله سرو کړکۍ دي ورونه
په غم ککړ، ککړ وويې لانور
بل ته خندا ځان ته ژړا راولي
خپل ژړيدلي ژړه وويې لانور
خپل خوړ وو چي بيګانه په خوښ سيي
بل خوړ ولي خوړ وويې لانور
زمونږ په غوبسوا جنبيان ماړه سوه
هم مستو، هم مړه وويې لانور
جوړي مونه کړې آبادۍ وځان ته
آبادۍ چيري نړه وويې لانور
ريشا په خپل غم مصيبت کي دوب دئ
ندئ انصاف چي زغو ويې لانور

کفن کښ

چې يو څه سې د ژوند کار سره پټليس
بيا يې کښې با سې تر ځې يو ابليس
کله کله په اميد سره زړه ښه کړم
تر نظر مې يې ټوخ وا سې تيس
چې څه نه لري د دوی به څه سې سوده؟
چې هر څه لري هغه بيا وي خسيس
هيڅ دروغي اميد مه کړه د هغو نه
چې ورانې يې وي لوستلې په تدريس
يم د ظلم په سکنجه کې ورغلی
د قوي لاس و په زور سره يم پريس
د امتاع د کم ځای و بولم يارانو
چې پر ليک نه امريکا وي نه انګليس
ريښتيا هسې کفن کښ کس ته حيران يې د
چې يې وکيښ د شهيد څخه کميس

بې باوره وعدې

په وعدو په قسمو يې باور نسته
چاکه خپله وعده څو ځلي کړه ماته
د هغوقسم، وعده ختا ايستل دي
د رښتيا د صداقت لار ځني پاته
ليري، ليري اوګوښه ځني تېر پېږه
له کاذب سړي مخ وګرزوه شاته
کاذبان هيڅ د وعدو پابنده نه دي
دړون خبره غوړځوي سباته
له دروغو اسلام هرڅوک منع کړی
خصوصاً دروغان نه ښايي ملاته
د دروغو مزل لنډوي دامتل دی
په ميدان کي ژر راوړي رښتياته
بې حياته د حيا اميد ونکړې
مرګ بهتر وبې حياته له حياته
وې ساته په صداقت پاکيزګي کي
خدايه!حقه لار وښيې ريښاته

سل د زرګريو د ګګر

د ماتول وار يې خوړلئ، پر کله د اتحاد دئ
ما غزه تيت زړې، زړې سوه، کارې وار د استاد دئ
پښت له پښته يا تر زويه، دئ افغان اولس نيکخويه
پر ميدان يې کلې لغړې، داد کم يزيد ايداد دئ
نه مؤمن غوندې زړه سوې کړې، نه انسان غوندې خپلوې کړې
زړه يې سخت لکه ډبره، دا خاصيت يې د جلاد دئ
که پابنده د قران دئ، که يې خوی د مسلمان دئ
که خير په سود، زيان دئ، هلته پاک د دوی جهاد دئ
بن يې وکيښ د خوش بينو، ريشه کش معانيد ينو
چې بنا پر بنياد نه وي، تعمير خوشې بې بنياد دئ
پې يې ايښئ د تو ږل کړې، پښې ستون چپه کيدل کړې
تر هغو چې نری کيږي، و فولاد لره خراد دئ
پر ډک خم چې د آساقي وي او تر څو چې ځنګئ باقي وي
نشئ به ملاقي وي، خمارې ته پرنه داد دئ
چې بګړې يې د اسلام وي، خوپه نيت د دوباد ام وي
که هر څو ملا امام وي، هسې پټ لکه صياد دئ
د مغز و به څه بنادې وي، چې يې ژوند نامرادې وي
بنادې نه لرو بنامنو، د ريښا ژوندګی نا بناد دئ

پس گردنه

بد نیتي دي، یو تر بله بد بیني دي
تر بګنې دي، خصومت دی، دښمني دي
بې عدلي، بې انصافي د کمه راغله؟
د بې وسو پر حق چور دی، شبخونې دي
اولادونه د کم دو، دي دانه خوره
د مرغانو په شان ورکې پلرګنې دي
نیک اعمال ولې بدلیږي په بدیو؟
که دقیق سو دا خبري بیروني دي
پر د ښتو ګر زیدل کلـه تمدن دي
په ښارو کي پاته لږ څو کورنۍ دي
خلګو څه کوی؟ پر که خوار هي یاست؟
پر دې لاري خورا ډیري دیدني دي
"ریشا" وګوره پر شاو خوا نظر کړه
در ته پاته چې لا څو پس ګردنې دي

نوبتي مرګ

پرېږده چي مغازې دا سلحو ستـه
وبشرته نوبتونه د مـرګو ستـه

که مرمۍ له ماخطاسي پرورو منبلي
په ضربه کي کله وخت د نښانو ستـه

استعمال دا سلحو باید جاري وي
په تعطیل کي يې ترل د فابریکو ستـه

انسانان چي يو د بله سـره وژني
بلخه نسته تنهاګنه د پیسو ستـه

اوکه نه نو وړونه ولي دښمنان سي
په هرجنګ کي پټ لاسونه د پردو ستـه

که سلاح سي د نړۍ له مخي محوه
وبشرته فراواني د نعمتو ستـه

دوی د دې دنیا لذات ځان له غواړي
وریشا ته صرف نعمات د جنتو ستـه

نا امېدي

ځمه خپل کاله ته کوږ مغزی د اندېښنو سره
اوښکی سوې لاړو نه د غمجنو کاروانو سره
لاړه ده اغزنه سړک وران پل نړېدلی دی
چاودې پښې ږدي یم د خولې خلاصو اولاد و سره
څوری د لارختم سو نوکان خوړه د لوږې څه
وچه وچوبې ده درخته نسته د ابو سره
ورک مې سو تما تو بی نه ګنډ غالی نه دیوال ښکاري
وړځې تېر و مه د قبرو او کنډوالـــو سره
و ایستل ګرانی د تن کالې په خپل قوت له ما
وچې مړی غوړه صدری یو ورد جېبو سره
هیهات چې د اڅړانده ستړګې یاد اوښکو و څي
هیهات چې په کټکې به وینا و یاني د مړو سره
ړیشا دانسانو د خوښیو مزه تللې ده
شین پالیزې لا ښې سو د لوښانو په ګلو سره

حق ده پېره

ژبه خوله کې دومره کله سوځنده ده
لکه بل چې مې پر زړه داور لمبه ده

غماز انو زه پر خوله یم پېژندلی
چې په ما پورې خوږه ګوله ترخه ده

زه انسان یم د لرګی نه یم جوړ سوی
ولې کښ زما پر سر د غم اره ده؟

خو تبر لره درختې لاستی ور کړی
د ربنو څخه چې قطع یې تنه ده

د غړومبې یې خلک تولد لرزېد له
پر راغلې نن د بېرې پرې لرزه ده

په غیرت یې د زمري نوم و ګټلی
د بانېې پنجه یې ښخه پر کله ده

نن یې ولې د همت بکړی شوه کمه؟
پر سر پروته یې خالي اوچه ډبه ده

څو عقلونه په سرو کې پیدا نسي
د هر چا څه ورکه لاره او کوڅه ده

لرګي يې پکار دي

هيڅ قوت ورپاته ندی يو زره
بايد نسي پر خپل ځان باندي غره
د ميوي اميد له هغه ښاخه نسي
چي ياوچ وي، يا په بيخ کي وي اره
وچه دړخته بيرته نه کوي برګونه
نه ګلونه، نه ښاخونه ګرسره
دچرسي زويه دګټي اميد مه کړه
دهغوخه هم چي ناست وي پر پره
هغه باغ ته چي باغوان يې نه دړلودی
چغالان وړځي پر دړ او پرسنخره
دلېوه څخه غټه مزونه لا بيريېزي
چي له څنګه ځني پوړته کړي بره
زه ريښاء دهغه چاڅه ډير بيرېږم
اسلحه چي يې وڅنګ ته وي خره

د زړه غمچینه

ګرانه د شیدو په ډول سپینه ده
مخ لکه سپوږمۍ دې ماه جبینه ده
یو ځل چې د یار وښنګ ته کښېنستل
هغه وخت له شرمه سره و سپینه ده
پټه خوله کې یو کتاب خبرې کړي
زړه کې یې ساتلې پټه مینه ده
کله چې په ناز سترګې راواړوي
پوه شمه چې نن لږ څه خوشبینه ده
شونډې چې یو ځل تر غابنو لاندې کړي
هغه وخت یې مینه له یقینه ده
لوړ قد یې چنار غوندې رسا ښکاري
ملا یې هم باریکه هم وړښینه ده
کله چې کوڅه په خپل لاس و اوبي
هغه د ریښا د زړه قمچینه ده

لوړ ختلم په زېړخانه ننوتلم

ما فضاء ته د ختو لاړي خاړلـــي
په نصيب مي گورستان يا زېړخانه سوه
چي هوس د پرواز و راته پيدا ســـو
وزړ وچ سو زما په پښوکي زولانه سوه
نابوبره د صياد په دام کي گير ســوم
بهانه راته د دام يوه دانـــه سوه
يا به مرگ اوس قبلوم، يا به يم غلـــی
اقربا راځخه ولاړه بيـــگانه ســوه
عقل هوښ راځخه تللی ليوني يـــو
دا په دي چي مشران مـو ديوانه سوه
صدقه مي خزاني نسوې د خپلـــو
هستي واړه د پره ديو نذرانه ســوه
آئينه غوندي رشتيا نسم ويلی
دروغان مي په دنيا کي افسانه سوه
د تعمير په امېد ما وې ليخي نغښتي
د ريشاء د پلاړکوند غالي ويرانه سوه

بې پرزو موټر

چې درست عمر يې تېر کړئ په مزو وي
پر بل چا يې کله هسې ژوند پېرزو وي
پر پالنګ د عياشۍ خوب و نه کېږي
خوب يې نه وړي چې بستر يې دا غزووي

تېر واته دي که د کار هيله ترې وسي
چې لوی سوئ په نعمت او په نازو وي
په غفلت کې ښکاري ښکار سي ښکار ولی
ځکه غلی، ناست چولوته د خزو وي

ده بهتره چې چپ کښېني په مجلس کې
هر مجلس چې ډک په غټو آوازو وي
چې د ژرندې پل يې څرخي پر سر باندې
څه ښادي به ورته پاته د مغزو وي

پورته، پورته غوړځېده د بل لرګي ته
دا کارونه يا د يږ يا د بيزو دي
هر موټر چې بې د پرزو وي، ولاړ دئ
خصوصاً چې بيا بې تيلو بې پرزو وي

رښتيا، صبر تحمل درته په کار دئ
که په ژوند کې درسره کمه آرزو وي

ژربه د نازه ولوبږي

لاس راخخه واخله ای ظالم بې دین غمازه
تېر به دي دوران سي ژربه ولوبږی د نازه

څونه ځوکلیږدل، څونه جفا هم تا و نکړله
وګوره تاریخ ته تر انجامه له آغازه

ظلم که تعدا وه که هوس وونو دي بس دئ
نه یي تر آخره بهره مندله امتیازه

تا که ځان پټ کړئ دئ د طلسم په لباس سره
اوس نګار پوه سوئ دئ چي څومره یې چمبازه

څه توری واخله د جانان بې اعتما ده یي
ما لره د خپل جانان د وصل درګاه بازه

خوار ریشا په عشق کي کم څونځوکلیږدلی دئ
شکر دئ خاونده معشوقه پوه سوله رازه

کوربل

چي ترسترګوي د يار اوربل جل بل سو
اور د مينې مي د زړه په کور کي بل سو
تازه دمه و مړ د سوي زړه د سوخته
زړه مي ورو سته بيا له سوي څه په کوربل سو
د فراق بنتي بيابان راته انګار دی
مخامخ د اور لمبې راته کوتل سو
د حباب ترچتر لاندي مي اتراغ دی
د سکرو تو په باران کي مي منزل سو
هيڅ نسخې مي د مرض علاج و نکړ
د ګولۍ پر ځای ګولۍ راته اجل سو
ريشاء ستا لا آينده ژوند ته اميد دی
چي پر زړه دغشو واړي مسلسل سو

سرشکوني

د خېل ځان ړنې يې وسوځ په لمبوکي
په کندړي کي پاته نه سو سپېروني
د بابا هستي يې ورکړه بېګانه ته
اوس د بل پر در ولاړ دئ ژړغوني
هيواد ټول په لمبوکي سوځل کېږي
پاته نسو اديې پر سر پړوني
هيواد وال دي تر څېرو لاندي سوي
پر لړزانه چوکه جنګ او سرشکوني
پر ماشه باندي يې ګوتي سره ايښي
وکوتي ته کړول د توپک نوني
چي د جنګ لمبي يولږ څه آراميږي
د بل لاس په لاس کي ورکړي اورلمبوني
چي جنګي جامه وجنګ لره په تن کړي
بدي اېسي ساده دله برګ پټلوني
ريشا ناست په لنده بله ژړخانه کي
پر پښو درد دئ لګېدلئ لکوني

مخ ته کرکنډي

شړمښان یوار پسه کړي انډي
ځني وځغلوي هر یو خپلي ونډي

انسانان هم ځني دي لېوه صفته
ځغلوي د وړور د ماله څڼه پلنډي

د حلال مالو پې نه وکړ له څکه
دکي خیټي د حراموتنډي تنډي

چې د خولې او د زړه لاره یوه نه وي
منافق دئ په اسلام وهي ملنډي

رقیب لس گرایه بدتر تر شړمښانو
عاشقان یې پسي واخستل سالنډي

ومنزل ته رسیده هغوته گران وي
چې په مخ کې ورته پروتي وي کرکنډي

د ریشاء اوږده منزلونه دي په مخ کې
ربدته کړي اوږدي لارې ده ته لنډي

تماشه يي کوه

نه ده نکتايي د عصريت نخښه
نه دي پوچ الفاظ د علميت نخښه
تش کوټ و پطلون سرټوټ نه بولم
څو يي کښي و نه وينم د پت نخښه
چاکه مظلومان تر لاس و و نيول
دا ده د غيرت د شهامت نخښه
يا که يي پوره کړي د بشر خواستي
دغه ده بيشکه د خدمت نخښه
زړو نه له دي ژوند څخه تنګ سوي دي
نسته پر نړۍ د حريت نخښه
نه ده و بشر له سلاح پکار
دا د قدرت منو د قدرت نخښه
ورځ په ورځ بشر و تباهي ته ځي
سيل کړه ريښا د جهالت نخښه .

د بل لاس

ډېر بشاش ځونه سوله پژمرده
ښادي ولاړه خلګ ډېر دي غمزده
انساني خصلت د خلګو فراموش سو
ولې جوړه يې کړئ د ځانه درنده ؟
مړيده يې دا انسان په غوښو نسي
چاپيدا کړه دا د غوښو خورنده؟
وړونه ولې يو تر بل تر له وتلي ؟
رسوايي ده ، نکړي يو د بل پرده
اکثر خلګ چې مقصد ته نه رسيږي
اجنبي لاسونه ستړي پس پرده
ويره خوله د خندا نسته شنډي بوڅي
غمجن حال دئ نه خوبني ستهٔ نه خنده
ريښاء ناست د بې وسئ تخته ناش کړي
د سيالانو په مجلس کي شرمنده

ټوله دي دئ

بېگانه ته يې ښندي خپل وروري مړ کړي
په عالم کې شرمنده سوځان يې خر کړي
هست و نيست يې وايه وړ کړه وپردو ته
د اولس تر مخ يې ځان لڅ ولغړ کړي
له بهره يې اولاد ته څه را نه وړه
لا د لاسه يې اولاد ته ځان منګوړ کړي
د بابا عزت يې وپلوره په جهل
ځان يې نورو ته په دې توګه ګادړ کړي
د خوړ کې بنارسي جتي پر سر کړه
ده وخوړ ته ور پر سر د غم ګدړ کړي
د هيبته يې زمريان لا لرزېدله
نن يې ولې ځان بانښي لره کوکړ کړي؟
په پاکۍ کې يې قدم څه وانه خيست
ترېخوا يې لا ميدان په غم ککړ کړي
ټوله ته يې غره مسه په کردار دي
ريشائبنه سوچي اصلي نثر دي پړ کړي

شخصي حکومتونه

برني پرپړوني باندي تاوان کړه
نني ته د سبا وعدې بيان کړه
چي سبا سوتياري د تيښتي نيسه
آماده و استعفا لره خپل ځان کړه
د شخصي حکومتو دغه قانون دی
بله پلا بيا په بل شکل ځان عيان کړه
ته ودی په مطلب ښه سره پوهېږی
بېچاره خلک په ځان پوري حيران کړه
په خلوت کي تا ته هر عمل جائيز دی
پر بهر خبر د خدای، حديث، قران کړه
که په پټو محفلوکي هرڅه لښ سي
خو د باندي سپين پټکی، کميس، تمبان کړه
دا د نن د بدکارانو دود، دستور دی
چي د خلګو ترمخ سپين ځان مسلمان کړه
که رضا د خدای، مخلوق ځان لره غواړې
ريښتيا ځان دي حقيقي عالي انسان کړه

پښوته لوږي

که سیلۍ اوري که سوځم په لمبو کې
که خندا کړم د ژوندیو په قبرو کې
واړه دی دی په ما هسي چاري کاندي
تېروم ژوند زه د عشق په مرحلو کې
د جانان د کلي خواته بې پروا ځم
پروه نکړم که تېرېږمه په سپوکې
د فقیر او سپو خو تل سره پرتدوي
په یوه کوره لوږي ژر په پښو کې
څو پیش ژوي خپل جانان ویلې نه دی
غمازا کله شمېرمه په سرو کې
زما د عشق مِس معلوم سوي دي ویاړته
رقیبان ژر حسابېږي په پردو کې
په رشتیني عشق چي زما ګل رخ خبر سو
ریشا گرزه د ګلا نو په باغچو کې

دمغزو عملیات

ورکاوه یې دکومک په نامه ونج
اوس د هري روپۍ سوداخلي چهارپنج
د سرونړو کتوریان یې په غلا یووړه
زوړ منګی یې ورته پرېښود پر ګړونج
طلایي خښتې یې وړي په عوض کې
ورکوي وچه تکۍ لکه اسپنج
دبابا غوښې یې وخوړې کارګانو
د زامنو په کله کې نسته سنج
پر مغزو ماهرانه آپرېشن سوی
چې ساده مسایل دیر اسي بغرنج
د لستوني مار دی دیر په عذاب کړی
سوه د هریوه ینه لکه نارنج
یو کچکول، یوه لکړه ورته پاته
ځغلوي ژر اوسنۍ پخوانی ګنج
یوه ورځ به د حسابوکتاب راسي
چې یې وپیچي مغزي، پښې وآرنج
ریښاء هیڅ ناست دی په چرت کې نه پوهیږي
وړي له دغسي ناخوالو څخه رنج

تالي څټي

چي پر چاپئ د عتاب سترګي کړې غټي
هغه دم هغو په پښو کړلي چوټي
نه اسلام، نه شهامت دئ نه غیرت دئ
چي د ورور په غوښو وړي سمټي
دا ښکار ندئ چي پر لاړ لاړ دي لښکري
ښکار هغه چي په هوا ولي ځرګټي
کاسه ډکه د حلال رزقه مزه کا
نه چي بل د رټه ولاړوي تالي څټي
چي د ورور د سر په بيه لنګۍ غواړي
خدایه! مه کړې راپر سر هسي ځرټي
پر کاغذ باندي مي وکښې خوښخبري
هسي پروټي وې په زړه کي لکه ختي
دا بیتونه د ریښا که څه تیات بولي
نادانانو اعتراف وکی په متي

ورستۍ هګه

لو ګیله د زوړ وړو څخه کیږي
چي وې نکړ د کمزوړو لاس نیوی
د توړ زنو شمله ورو غیرت ندئ
چي کوي د وړور پر حق باندي تېری
چي ملت یې تر خپل ځانه پوري هېروي
د هغو په برخه مه بوله بري
مجالس او فیصلې بې نتیجې وي
پکښې ګډ چي په خیرن زړه سوسې
چي تر څو ګي څوک ورستې هګۍ کې لاندي
امید مه کوه چي وباسي چیچې
مسلمان که تر نامه زیره او ږ ده کړه
پر شګمن یم که یې لند وونیم ګزی
د خالي او بو به څوک کوچي وانه خلي
د غمرکي چي هر څونه وي شرپې
ریښا، هغه وخت خپل ځان بختور بولي
که یې وکئ د تېریو مخ نیوی

د بندګۍ ژوند

شوه کېږي به د قبر و زندان ته — که هر څو دي نن هوا د آزادۍ ده
دغه لار چي دي اخستي ده بندېږي — فکر وکړه دغه لار د بربادۍ ده
لکه غاړه تر ابده لکه نه وي — کله، کله لکه غاړه د زندۍ ده
پردې ټوله غوږ ولي مستان ګرځي — زمانه نن د سوتي او د رندۍ ده
که د عجز و خلوت شو د ننه — خلوتګاه وهر فقیر ته د ښادۍ ده
که شاهان په دې خلوت څوک محصور کړي — ورته ښېښه نا جوړي د سابندۍ ده
د ریشا ژوند نه شاهي نه فقیري سوه — ژوندي د بندګۍ د بې خوندۍ ده

د سرو نولو

نه ورحُم د یار کوڅې ته نه ورحُم — توري جولې هلته تک و دو کوي
سپي غماز مي لاره بنده کړې ده — درکي د جانان ولاړ عوعو کوي
کله یې حضور ته رسېدلی سم — لارکي رقیبان را ته پیشرو کوي
یار مي د زړه کینت ته ورلوېدلی دی — هلته مي د عشق د ونږ و درو کوي
کله یې د حق آواز تر خوله خېژي — دوی لکه میناوي کړکهوکوي
دېر، دېر د رواغان مي اوریدلي دي — پوه یم بیا پر نورو وعدو خوکوي

نسي رسېدای ریشا تر یاره پوري
څو چي جلادان د سرو لوکوي

نه تعلیم نه تربیه سته

تعلیم نسته ماشومان بې تربیه سوه　　مکتب وران سو معلمان ځني کنده سو
تربیه د وړ کوجنګ دی یا بنیګڼل دي　　مور و پلار یې د ړوندې په غم اخته سوه
په کوڅو کې کچنیان واړه لوچګان دي　　په ډبرو سره ولي د یوانه سوه
جهالت وړ ځ تر دابله ورځ ډیریږي　　خوی خصلت یې د حیوان اُدبونه سوه
پلار یې وزي د رو پو وتولیدو نسته　　اولاد ونه یې کوڅې ته وراېله سوه
انساني خوی یې بدل په حیوان توب سو　　هم یې ناسته هم خبري د شوده سوه
د ریشا د خولې چې هر اوف، آه اُوزي　　پر کاغذ د فریادونو مجموعه سوه

د غه حال دئ

غوښې خوري د خلګو په جرئت سره　　وینې یې چښي په ډېر لـذت سره
نن یې ورځ تر بله ورځ یا ړسوب کوي　　خبته به یې و موښلي د چټ سره
ورځ راځي چې لوی انقلاق وکي　　ځیری به لړ شین سي په شدت سره
وي پلوړل د پلار هدوکې وپلوړل　　راپې نیوی جهل په عزت سره
مه کوئ د خدای وروی ته و ګوری　　ګوری تو له حال ته په دقت سره
دا د هوښیارانو کار زه نه بولم　　ګده بې عقلي د حماقت سره
چاچې د بېوزلو حقوق لاندي کړه　　ځکه بند ي غاړي د ذلت سره
چاکه مظلومانو لوړې ته پوړته کړه　　دا دی ریشا ژوند د شرافت سره

زړه ته مولويږي؟

تول خوند ونه تول، زموږ د زندګۍ سوه — موږ ته پاته زندګي د بې ننګۍ سوه

ځهاني نن ورځ دي مړه چيچيان ايستلي — زما خيال چي دا دنيا ورسته هګۍ سوه

ځليد ونګي ځلا ورکه سوه تياره سوه — له محفله ښخه پورته مارد نګۍ سوه

تراني د عشق به مرچا نه غولي — خولي ګبې سولي او ماته سارنګۍ سوه

هغه زړونه نن د جوشه دي لوېدلي — چي له سره راشوه ښخه لنګۍ سوه

افغانانو خپله توره بل ته ورکړه — افغانه توره روسه يا پرنګۍ سوه

څوک دي ولي په وينا وونه پوهيږي — ريشاء ستا ژبه توړۍ سوه که ګونګۍ سوه

ژړي تلي

داځه حال د چي ژړېږي کونډي رنډي — ديوې هغتې ناوياني سولي کونډي

د چاپښې لکه چخلي دي ړنګري — د چاپنډي، پنډکه، نوړې هم سوې پنډي

نا اهلان په دغه حال پوري خندا کا — عاقلانو ورته وچيچلې شونډي

خلګ نه ګوري وبدي آينډې ته — وجواب ته يې نيولي خولې دي منډي

تول اولس پر دي کمبله نه ځانيږي — پر کمنځه کمبله نه سي لويي غنډي

چي چري يې د خپل کامه پوتولې — د هغو چري عالم ته سوې برندې

د غفلت تلک يې کش کړي پر سباندي — ژړدي تلي يې راووتي ترخنډي

ريشاء مه ورځه پر دې ناحقه لاره

د ناحقې لاري وځغله په منډي

ولي بل ته اړيو؟

تیل مونسته د څراغ او د اوجاغ — بل ته اړيو موږ په تیلو د څراغ
پلیسوز مو وخپل ځان ته پیدا نکړی — لګولی مو دی بل ته چهل چراغ
هم په ستن هم په کفن بل ته احتیاج یو — په هستي کي یو نښتمن زړګی داغ، داغ
زراعت سته مالداري ځکي پرېوانه — مګر نوري یي له تولید څخه سوه چاغ
په سترخوان کي که یوه ګوله پیدا سي — د هوا څخه غوټي وهي پړي زاغ
خولي دي مندي د زړه حال ویلای نسو — موږ د بل تر نظر یو لکه الاغ
ولي اړیو په هستي کي د بل لاس ته؟ — راسی وباسو د دي اړتیا سراغ
که اصلي علت د دي حالاتو غواړي — ریښا وابه وړي پخوس قصه دروغ

د غلو ملګري

نه جوړیږي څو اخلاص، صداقت نه وي — نه خپل کیږي تر څو مینه، الفت نه وي
وهرچا ته خپل حقوق کله رسیږي — چي حاکم د عدالت حکومت نه وي
که د چور د پاره تړي وي پر انستي — په هغه ځای کي د خلګو دولت نه وي
حاکمان که سوه د غلو سره ملګري — مال لا څه کوي د سر امنیت نه وي
بدامني او ځان ځاني چي هر ځای راغله — بېره، وهم وي مال، سر سلامت نه وي
پر بې وسو، زوره وړ کوي ظلمونه — د بې وزلو سره زور و طاقت نه وي

ریښا غواړي پر ځړي چي عدالت وي
په بشر کي خیانت، جهالت نه وي

څنګه وکم؟

د فراق په لمبو سوی خوږین ځګر یم
د وصال په امید ناست صبح و دیګر یم
ما د مینې لار په ویښو او پښې کړه
اوس د ډېرې خونرېزۍ روند په نظر یم
د زړه وینې مې د خولې څخه فوران کړې
کږ مژګانو یې وهلی په خنجر یم
سر و مال مې د وصلت پر لاره ولاړه
د عشق لاره کې زه تېر تر مال و سر یم
سپي رقیب د یار له دره فراري کړم
د هغې ورځې تر اوسه دربدر یم
چې په سپینه ورځ کالي را څخه کاږي
نو به ولې هسې غلو ته خوش باور یم
له دربار چې آشنا نا آشنا باسي
زه ریښتیا به تر مغود بل پر در یم

بې فائيدې مجلسونه

يو سړی وي د تو پو په ويشتو ستړی
بل په ځغاسته پر دبنتو بيابانو ستړی

چا شپه تيره کړه په چوړ پسي روان دی
د هغې خوا د ګونې په راوړو ستړی

چې لري يې هم د خواست لاس بل ته نيسي
سونا د ار پر زريار تو په نغلو ستړی

څوک جامونه يې پر پې چنبې تشيرې
څوک کاګل لره د بام په کاسو ستړی

څوک په شام پارپس مخ زيره خيشته کړي
بوټ پاليش والا په بوټ ومو ز و ستړی

شپه او ورځ يو ځای و بل ځای ولې مندي
هر هيڅ په بې فايدې مجلسو ستړی

دې ستړيا و و کې ظاهره منفعت سته
په باطن کې وي په دکو کامو ستړی

وريشانه هوسايي نده ور پاته
هره ورځ په جنازو و فاتحو ستړی

نیکي غوښتنې

پناه راکړه د شیطان د وسوسو . حب مې و باسه له سره د پیسو
ما د حق او حقیقت پر لاره رهي کړه . چې را و وزم د نااهلو د جلسو
انساني خوبونه زما سره همراه کړه . نه لیوه غوندې چې ګډ یم په پسو
د هغو ملګرو زما په نصیب مکړه . چې په دام و کوي ملي ګټې د نسو
چې تیرنه وزم د ناکسو په وینا و و . ما غالب کړه د شیطان پر دسیسو
درېشا د تسلیم لاس وتا ته یو رته . خواست کوي د خان اولاد د اولسو

په وینه بیده

د دښمنو په لمبو سره تاوده سوه
یو د بله په میدان کې سره سره سوه
د غرور څخه بیا پر مستۍ را غله
حقیقت په سترګو نه ویني پټ انده سوه
چا ور دوی ته د نشې پیکاري ورکړه
چې مستي يې د موړلې په ږغیده سوه
لکه مږ د بل د عوت ته حلالیږي
غاړې پرې مذبوحانه يې غوړځیده سوه
په خوبې مواد لړلي يې ماغزه دي
په وینو کې څملیدلې د بیده سوه
درېشا لړزانه ږغ محفل زغن کړي
دا زغن او ازېږې سوره سر بیده سوه

وچاته ورنغ کړم ؟

هدیرو کې موږ وچاته کړو و رنا رې
ساکښ نسته چې د خلګو ناره واورې
موږ د خپلو پېښو رفتو لاړې ښار لې
ښاو خوا سوې راته بندې تړوله لارې
چې رښتیا سې اوس په هیڅ چا باور نسته
د باور د لارې مله سوله بې لارې
ګرم و سرد حالات پر موږ باندې تیر یږې
سپینې سرې ستر ګې چې وینم خونکارې
باوله مې را بلل د زړه علاج سته
اوس به خو رم پر ککرې د ګوسو وارې
خوړ اد یرې د امید وعدې یې راکړې
نن پر خپلو وعدو کړت سوله ناګارې
دړیښا حیات ګړی په ګړی مرګ دی
چې دزړه غوټه یې چې د وینو دارې

پرکمه رهي يو؟

ومزله ته زه پرلوري د خطر ځم
پدې تګ کي په پښونه ځمه پر سر ځم
مزله وال په سپينه ورځ له مانه تېر سوه
زما په مخ کي توره شپه ده مازيګر ځم
ناست چرتي يم د مزله لاره مي بنده
د مرګ لورته زخمي زړه سوی ځګر ځم
د کاروان مهار په لاس کي د ساربان دی
اختيار نسته چي څنګ په خپل نظر ځم
لاره ورکه د مزله ده شپه تاريکه
په بيابان کي دوړي، هيسته لرو بر ځم
بې آبي ده احتمال د چولي شته دی
ترلمرخرکه ناخبره بې باور ځم
زما ريشا ځه د سفرلوري ورسوی
چي پرکمه خوا روان په کم سفر ځم

پښتون پاته سو

تخت د سلیمان ګنج د قارون پاته سو
د هر پاچا جلا مضمون پاته سو

کرار، کرار پسې تو لیږي تولـــه
تن به روان سي که پرون پاتـــه سو

چا زرغوني درختي د بخه وکښـې
د بل آباد باغ شین، زرغون پاته سو

یو د بل مال ته پر څلورو ورځـې
د بل یو لاس او یو پښې ورون پاته سـو

انسانیت د افغـانـانـو ولاړی
اوس یې خالي کوټ و پطلون پاته سـو

انسانان ټې روان پرمخ دي ړهي
تاجک، ازره، ازبـک، پښتون پاته سو

د ریشاء نوم او یا نښان به څه وي
که پر پره دي ځکه مسکون پاته سو

لاس یوکئ

پښتانه، تاجك، شیعه، هزاره ګان ترکمن، ازبك، بلوڅ، نورستانیان
هرتکم چې پدې خاوره کې هستیږي بلل کیږي په یوه نوم د افغان
افغانان د دې هیواد میراث خواره دي ځکه ټوله د دې خاورې دي بچیان
اشغال ګر غواړي چې د وی سره جلا کړي چې بیا وروسته وي اشغال ورته آسان
لمړی غواړي چې پر قوم، مذهب یې بېل کړي پدې توګه یې کمزوری کاندي توان
بیا جلا، جلا پر هر یوه حمله کړي د بشر د غوښو وړي شرمښان
افغانان که ځان اولاد ته امن غواړي د دښمن په دسیسو دي پوه کړي ځان
دیوه والي اسلحه خوړا کاري ده په نفاق کې د بل ګټه ده خپل زیان
که بقاء غواړي ملي وحدت یې شرط دئ بې یو والي تدریجي مرګ ته روان
یا به حتماً یو ځای کیږي یا به ورك وي د نقشې د مخه ټول افغانستان
د ریښا خبري هرشنوانزا وري
د کمو د پاره ندئ دا بیان

ذغاليان سوو

راته پېښې دۍ هره ورځ نوۍ سړد رد | د توږ مخو سکروګاز کړم ګرم، سرد
لغوړنه سر دردي او سرچرخي ده | زړه مي رېږ دي د نارنج په رنګ، رنګ زرد
هوائي سوم تکهاړۍ مي په سر کښې | تر غوږ ومي ټکان باسي مرد نامرد
د کوټې ياران مي واړه هوايان دي | وکومک ته پيدا نسو بل همدرد
آرام نلرم په سرکي مي برچې ځي | سر چرخيو کړم د ژوند څخه دلسرد
چي يې ووينم تورمخي بد مي ايسي | ذغالي کړم د تورمخو سکر وګرد
زه د ژمي د ساړه جنګه داريږم | چي اخيستي سړه لوي وي فرد، فرد
د اسخت ژمۍ به خاوند پخير تېر کړي | د سکروځ به وي توږ په عمل کرد

رنګ زردي به و ريشائۍ سرخروېي وي
که يو ځل يې د سکروموسم کۍ طرد

فراري عاشق

چي ځان نکړي د يار مخ ته سپيلني
هغه کله عاشقان دي رښتني

تر چولو چي د جانان ومخ ته ګوري
هغه خوشي ننداره چيان دي بهرني

که د مرګ سګلی د يار پر زنګانه وي
دا وصلت دئ مګر هو، زکندني

که وصلت د ياري پري بېنو د فراري سو
په قانون د عشق يي خپل ځان کړئ خوني

چي کوڅه د يار په او ښکوا و پاشي کړي
لري هسي تروي او ښکي شيريني

مرام کاته او تبسم يي نوی ژوند دئ
سل ځلي زاړه به کړي شل کلني

عاشقان د يار و دره ته ملنګان وي
چي پر د ښت ګزري هغه دي ليوني

زما د عشق صفحه د يار په توصيف ډکه
له نبايسته د ريښا اشناغي

مردارخواره

مالیده خوري ، هم ډبري، جواري خوري

کلنګي چرګه و چرګ واړه جاري خوري

چغالان بیا د چرګانو قاتلان دي

ترمنا يې ډېر چټک پر هواري خوري

دلاښو په ټلاښو کې بانښه ښکار کړي

طبیعت يې دئ چې هره مرداري خوري

اِشتها چې يې د حرص په ښورکې راغله

مرداري لا په خوړا مزه داري خوري

د هرچا مطلب خوړک دئ په ژوندون کې

يو په زوربل يې په ډېره هوښیاري خوري

څوک کرار، کرار خوړک په حوصله کړي

څوک غوټې وهي خوراې تلواري خوري

رېښاء شکه د حرام خوړو ونکړې

حرام خوړ آخر پر سرواري کاري خوري

ترکلکین راته ګوري

لامړنه دئ چي پر سرېي کېږي واړي
لا يې نه ويني چي وهي داري

نامردان وي چي پر مړو توري راکاږي
پر راکښلي يې وي سري ستر ګي خونکاري

څنګه زړه دئ چي دوړو په مرګ بناديکا
او ړاباسي پسله له مرګه يې اندارې

دا نن څه زلزله ګډه په نړۍ ده
چي يې ښځې نږ وهي دغم کوکاري

دا دکم چپاول ګرو چپاول دئ
چي په سپينه ورخ نيولي يې دي لارې

پر ميدان باندې يې مخ نه ليدل کېږي
تماشا کړي په کلکين کي ترهنداري

ريښاء داسي تګاري په ستر ګو وينې
انسانان وژني لا ځان ګڼي خداى پارې

ګلګل ميري

تجارت نن ورځ اکثره سود خورې سوه
عقيدوکي پښتنه داسي کمزورې سوه
که په هر قسم خوش مېړي پيداکيږي
د ده نکړي تولېده يې رنځورې سوه
بې پيسو څه، بله مينه، الفت نسته
د روپو حب دئ چي ورکه مو، ورورې سوه
کيسه پرندي د بل د جيب يې کاږي
که څوک ځير سي د غه هم کيسه برې سوه
د روپو ګوني په شاوړي و راوړي يې
حمالي ده چي يې نوم سوداګري سوه
سرمايي د خپل هيواده تخند باسي
واولس ته پاته خود دربدري سوه
حساب ورک دئ محاسب دئ ناخبره
ګډوډي، بې حسابي ګلګل ميري سوه
ريشاء خپل ځان دي په لږ سره قانع کړه
ډېر وليې و بل چاته مزدورې سوه

توپک خپل و پردی نه پیژني

زړه چي د توپک وسوځي بل وژني
نه لري تميز پره دي وخپل وژني
زړه کي چي يې بل داور لمبه سوله
څوڅي زړه يخ نکي سل وشل وژني
کله سته تو پير پرې د انسان حيوان
خره وژني، غوايې، انسانان سل وژني
د ک توپک سنګدل انسان چي واخستې
خلګ پر کشمير او پر کابل وژني
دوست و دښمن کله توپک پيژني
نه يې په پوښتنه ني توکل وژني
هر توپک و مرګ لره جوړ سوې دې
کله ډير عاقل کله پاګل وژني
ورک دي وي توپک د کتارو سره
څکه شش ليدل يې ريشاء تل وژني

بېوسه یو

زه بې وسه، ته بې وسه، دی بې وسه
موږ بې وسه سووچې دوی سوه ګل هوسه

نو به خود دوس دارانو ناخیرې وي
پر موږ شهیري دروپې مال یو په لسه

پچمچې که څوک چیچي دا دې عسل دی
شات خوچانه دي اخستي له مګسه

چې بې وسه د خپل وس په جال کښې با
خدایه وباسي کلهې د دوی له نسه

په یوه آذان یوه مسجد کې لمونځ کړي
مګر بعضې یې ولاړ وي بې اود سه

یو خواخوږی زموږ د پاره پیدا نسو
په دې لویه کورنه کې یو بې کسه

ریشا بند دی په قفس د بې وسی کې
فریاد ونه یې راوړي له قفسه

پر صراف کلپي نه چلیږي

کوز بار کله تر مزله پوره رسیږي
تر هدف پورې پر لارې چېرې کیږي
که کوټه سکه دي ور کړه وصراف ته
کلپي کله پر صراف باندي چلیږي
د رشتیاد باغو درختي وي پر باره
د دروا غو د رختي وچي سي رژیږي
که د بله یې الغیچ کړه خان ته کوټه
چي مصرف یې نکړي بل لره پاتیږي
چي پر لوتو باندي پوره ته پوخ د یوال سي
د بقاء امید تري مه کوه نړیږي
د خولې لار او د زړه لار چي یوه نه وي
اقرباء لا د هغو ځنه بېلیږي
ته د یر بند وایي ریښاء کوردي ودان سه
خوتر تا ستا مخاطب بند په پوهیږي

راغله، ولاړه

مړې کړې مور مړې بیا به یاد نسي
غږ و نړېدې بیا به ایستاد نسي
غم یې پر کور توره لیکه وکښله
د و مري غم زده، سوچي به ښاد نسي
ډېرو نامرادانو ډېر نامراده کړل
دا نامراده زړونه به د مراد نسي
یو وار چي سقوط سو اعتبار د چا
بیا به د و هم ځل د اعتماد نسي
یو ځل چي په مرګ په لحد ننوزي
هغو ته د ژوند دوا ایجاد نسي
اوس یې سالګرې د مرګي یاد لري
ژوند یې بایدېس له دې پیاد نسي
سرپټ کړه ریشا په رنګت وژاړه
شو غمخور پیدا د دې هیواد نسي

بدي خاطرې

راته پاته ډيري بدي خاطرې دي
په غوږو کي د وحشي حيوان نارې دي
په ليدو سره آواز د خولي نه وزي
ګنګوسه يم چي داخنګه قوارې دي
د خبرو مجال نه دئ راته پاته
يا د لاس او يا د سترګو اشارې دي
د غمجنو اوښکو سيل پرمخ بهيږي
د زړګي د وينو پوره فوارې دي
د علاج دلرو بي نه دئ پيدا سوئ
طبيبان نه د علاج، نه د چارې دي
ستا په داد خدائ رسيږي ريشاخوره
نور دي ټوله کوښښو بي وارې دي

منافق

څوا مخ چې درته ناست وي، جان، قربان به درته وايي
که دې سترګې سوې نه وې، بدګويي يې پس شا وي
هسې خلک منافق وي، چې زړه، خوله يې يوه نه وه
ستا پر غم د زړه سره ژاړي، پشلا کوي خنداوي
په دوستۍ يې باور نشته، وې دوستي يې په دروغو
ظاهر ځان بولي تېروني، دښمني يې بيا په غلا وي
په ظاهر جار و قربان او په لباس يې خطا مه شه
باطني خوی و خصلت يې، د انسان نه وي بلا وي
هوښ کوه! د هسې خلګو په ګفتار سره تېر نه وزې
چې وينا، عمل يې دوه وي، يو د بل سره جلا وي
همېشه د صادقانو سره دوست و همنشين سه
د کاذب او دروغجن څخه دوري دې درېشا وي

کوږلاس کوږمغزی

د همت ښبتنان طمع د چا نه کړي
شهامت به په خشم وسودا نه کړي
نه کوږ لاس د کوږ مغزی نیسي وچا ته
او په لاس کی به د فقر عصا نه کړي
بې همت وي چي د بله منت غواړي
بې همته بیا هم ورکړه وړیا نه کړي
خپله خوري خپله ګټي لږ وي که ډیره
د بل مال لره به اوږد لاس دغلا نه کړي
دا کس نه دی چه غیرت کي تر پښو لاندي
او پر خپلو لاسو، پښو اتکا نه کړي
هسي ډیر مفت خوار ه سته په جامعه کښي
په دروا غو دا خبره ریښا نه کړي

برگ گل

چې پرلاړ ځي برګ ګل يې څــوروي
په پړه دي اشاره خپل يې څــوروي

برګ ګلو يې پر سر اوروونه بل کړه
مغز جوش وخوږ کوګل يې څــوروي

برګ ګل که وي شو وړځي نه غمل کيږي
په کلو کنداغ وهل يې څـــوروي

بېګانه وو يې خپلوان دي بد راه کړي
چې رشتيا سي ګوا کي بل يې څــوروي

حق دئ چيري چې خپل ځان ورلېتسليم کړي
د سوتي په زور منل يې څوروي

ولي برګ برګ ورته ګوري خو انسان دئ
له دي لاري څه وتل يې څــوروي

د وجدان دادګاه که هرچيري پيدا سوه
ريښا هم ورځي چې تل يې څــوروي

بنه انګور چغال وهي

څوک چې يې پر مينځ همږې پرنال وهي
خر د دوی د آس سره چهار نال وهي
وي به، چې د باغ قوالد ستا څه وي
اما، هغه بنه انګور چغـــال وهي
څوک واي چې حق دي منم وي غواړه
څوک بيا مخامخ دي ســرمال وهي
چا ډامبري لار په ځينو وړانه کـړه
بل بيا کښت ته مځکه په د وپال وهي
ماغوبنته تعمير دو منزلـه کـړمه
سړای ميانځ کې جاهل بنا ديوال وهي
څه سو محتسب او شرعي دُرې
ولې په شلاخوې کوتوال وهـي
غلځ سه ريشا فرياد وچاته کړې
تا خو هم پره دی هم انډيوال وهي

پښې نه پړ و رځي

پښې هغه کړ دیو ته بیانه ورځي
زړه چي يې ها برګ کوته کوتلئ دئ

لیري په دوربین کي ور معلومه سوه
توري دي کړ دئ کلي وتلئ دئ

نه بلیږي اور په دې نغریو کي
دلته دوږخي اور لګېدلئ دئ

پاته، تښه، توره سوله دامینه
میږي، اوښان نسته تللئ کلي دئ

دلته پر لانبو باندي کارګان ګرزي
شاو خوا اتڼ يې اچولئ دئ

بیا به هغه دي مینې ته راشي
یو ځل چي کوته ور غورځېدلئ دئ

ځي د ښامار اړخ ته اتراغ کوي
پلار د دې ښامار ریشا چیچلي دئ

آینده نتیجه

هر د ول مستي نن ورځ کولای سي
هر قسم دري په چا وهلای سي
تا نن دبي وسو واك اخیستئ دئ
تو له په یوه وندر تړلای سي
تا د صیادئ لوی تورا ودلئ دئ
ته لا هوائي مرغان نیولای سي
دا سي اسلحې دي سازي کړي دي
لیري و نزدې هدف ویشتلای سي
لوی کراته بازیې چالاکي لري
هر ځای چیل حریف راځمله ولای سي
حرص دي نه مړیزي چي هر څونه خوړ
هر څه په سرا بنتوب سره خوړلای سي
ته که آینده ته نظر واچوي
ځنګه نتیجه ځني ایستلای سي
وبنیه ړیشا چي دا ته څوك بنیې؟
ما ته دا بنیلي ړابنوولای سي؟

د بیت المال موږکان

کښېږدی ژر تلکي موږکانــو تــه
دا د بیت المال رشوت خورانو تــه
وي نیسئ ترخټه عدل تې وسپارئ
ورکړئ سزاګاني خــائینانوته
ونغاړئ کمبلـه دفساد، رشوت
وغوړوئ فــرش و صادقانو تــه
چاکه د ملت په سر سودا کول
مه ورکوئ ســـر دې تاجرانوته
چاکه حقیقت په توپک وويشتي
تمینګه چکه ورکړئ جا هـــلانوته
هرڅوک چي خدمت په صداقت کوي
وسپارئ اختیار و خـادمانــوته
نن ورځ ریښا هرملت پوه سوئ دئ
ځان به خوشي نـکړی ناپوهانوته

نه شرم نه حیا

مخ دي پرته کړه د هرچا میراث خوره
حرام خوره تاته وایمه مخ توره
د عالمه دي نه شرم، نه وا یه سته
چې د بل یتی دي لاندي کړ په زوره
جنت نه جوړوي د ځان د پاره
نه بېرېږې د دوزخ له سخته اوره؟
په ژوندني که دي غاړې خلاصې نکړې
نه خلاصیږې پس له مرګه زهو ز دپوره
د سیسي دي زما د محکې باغ کړې جوړې
تاکړه لاندي زه دي و اېستم د کوره
ولي د و مري بې غوري سوه په جهان کې؟
ولي نسوه د ظالم کاسه نسکوره؟
د رېښا د زړه د خروښ نه غلبلي دي
د فشار حمله بې و استوي تر ګوره

ترکه‌وارزانه

د پیسو په مقابل کې هر قوت ولاړ
د پیسو څخه بیا خیر و برکت ولاړ
نن سړي راښول کیږي و خرڅیږي
که داګڼه وه نو ړنګ توله تجارت ولاړ
ترکه‌و دی د همنوع سرا زانه
چې د چا څخه اصلي انسانیت ولاړ
پر نړۍ د سرومردکو باران اوري
رحم نسته شفقت ولاړ محبت ولاړ
انسانان چې ډیر وندر کړي مرد هغه دی
خپلواکي و آزادي و حریت ولاړ
عاجزان د جهان واړه د زړه سوي دي
په شومتیا یې د وجو څخه طاقت ولاړ
پر مغزي به لا ریشا نورسوتي وخوري
د سړو څه که د عقل سلطنت ولاړ

سِوَکُ زړه

چانه تش کړمه د گرومخه ړک زړه
د تیروني دوست د کاني پشان کلک زړه
زړونه وا ړه گوښي، گوښي حرکت کړي
پیدا نسود دوو کسو مشترک زړه
هسې خلگ په ژوندون کي وي ناکامه
که لاره یي په تصمیم کي دل دلک زړه
که ضرړ یي رسیدئ بل مسلمان ته
د سړي نه دئ، هغه دئ د موږک زړه
که غماز زما د جانان تر څنگ رهي وو
د کوگله هغه دم سي لا دړک زړه
چي لیدلئ مي نجس مخ د رقیب دئ
دهغي ورځي اخستئ مي دئ دک زړه
دل سوخته ریشا دشمع پشان سوځي
را ایستلئ یي محفل ته دئ سِوک زړه

اوبږدزکندن

که مطلب وي ومقصد ته رسیدن
دبي وزلوسره تل کړه دویدن
دړمي ترمخ که هرڅوځي مغروره
دقصاب چاړه بي قطع کړي گردن
په یوه دبره ټوله کارگان غورځي
چي پرلابس باندي راتول وي په خوړدن
دلیوه ترڅنگ که وَدَرېدي ولاړي
دلیوه لمړی حمله بیا دریدن
همیشه پر یوه حال څوک نه پاتیږي
هرڅوندي ته په آخرکي سته مردن
مرد هغه دی چي بسه نوم یې ځان ته وگوټ
نه پرمخ دخلگو ناړي توئیدن

که په طمع دجانان دوصل ناست وي
پرریشا باندي به اوږدېږي زکندن

پــریوه زخمړل زخم

ستا د ګرومه ښخه وینې د ځګرخوړم
برناحقه زړه دواوي د ډاکټرخــوړم
نه ژړی یم، نه مې تبه، نه سردرد یم
د ناکسو چپلاخې سرپرسرخــوړم
ښخوانی پرهار لا نه وي پیوند سوی
پر هغــه زخـم وارونه مکررخوړم
یم دوینو په تالاب کې غوټه سوی
نو به چیرې پر دې حال شــیروشکرخوړم
داغزیو په تونل کې مې سفــرسو
پر وجود باندې د هرې خوانشترخوړم
زما ریشا آرامي ولاړه دیدنی دي
شپه او ورځ لغښته د ژړګوپربسترخوړم

ښه کوئ بد مه کوئ

د همنوع سره ښه کړه څو دې وس وي
دیوې نیکۍ عوض به دي په لس وي
که بدي کوې د هرچا به منفور یې
حیثیت به دي وهرچا ته د خس وي
د نیکیو پر دنیا، عقبیٰ عـوض سته
د بدیو توبه ګار سه څو نفس وي
که څوک غواړي په اولس کي وي نېکنامه
یا یې تل چوخه اغوستې د اطلس وي
نو پر لوی او پر کوچني دي مهربان سي
چي د هر چا یې خبر و ته هوس وي
ریشا لیري ګو ښه ګرزه د بدکاره
او که نه نړی به تا لره قفس وي

سګرېټ کښانو!

مه څکوه سګرېټ چي ډېر ضرر لري — سزي وړانوي د مرګ خطر لري
نه سوځي لوښونه څوک په اور سره — هر دانا که ګټي ته نظر لري
پوه یم چي اضرار یې دي معلوم تاته — تول سګرېټ کښان په دې خبر لري
تېنګي وچ وي خلق لګه تغر دچا — هر څوک یې پدې علت باور لري
وړ غوره چېل ځان له دې خطر څخه — ستا ژغوړنه زښته خوږ ثمر لري
عقل دئ چي ځان ورځني خلاص ګاندې — هلته سګرېټ کښ ژوندون بهتر لري

هوډه غواړي، عظم، تعقل غواړي
بیا نو د ریشا وینا اثر لري

نصوار یانو ته

ژړ غاښونه خوله ترخه د نصواري — په وړاني بدلوي سپین غاښ مرواري
چي یې خوړ سکي بوی د خولې څه ولاړې — د هغو سره چي و نکړي یاري
دا عمل زما د دوست په نصیب مه کړې — چي د خولې څخه یې شني ناړي جاري
چي په خوله کي یې نصوار وي کړي خبرې — بدي مي ایسي، خو یې خي ده ناچاري
تف دانه یې وي د شنو مواد و ډکه — په پریولو کي تیروي پر بل خواري
په مجلس کي چي تغدان نه وي تر ښاسي — تر کمبله لاندې تف کړي تلواري

په دې بد عمل ریشا خوار اخته مکړه
چي دوستان یې ځني نسي فراري

خپلې ښکلې ته ځم

ته که ګلدستې وچل نګار ته وړې هغه ګلان کله غوړېدلي دي
تاکه پخواني ګلان ساتلي وي دا غوټۍ پخوا لا رژېدلي دي
ته که دیار دړ ته سلامي ته ځې هغه دروازې لا سوځېدلي دي
هرڅوک چه په دید پسې کوڅې مست کړي تول دیوالونه را لوېدلي دي
هو، محبوب خوستادیر وفادارهوډ دی ستا رانګ تې دوې سترګې یونږلي دي
وصل که دیار غواړې احتیاط کوه دې لارکې ښېلي ښوېدلي دي

پوه یم، یار ریشا ته انتظار باسي
ځړ ورځم دیار سترګې مې ښکلې دي

خبره خلاصه ده

نه منه بیا دې خبر نه منم ما له تا دروغ ډیر اورېدلي دي
نه لري وعدې دې وفا نه لري څو ځلې وعدې دې ماتې کړې دي
بیا به په غلطو وعدو تیر نه وزم تیر ویل دې تول دروغ ویلي دي
ماته دې اصلي چهره معلومه سوه ستا دمخ ماسکونه مې شمېرلي دي
مکوه دخدای و روی ته وګوره زما ترزړه د عشق غشي ختلي دي
پرې مې ږده چې زه ویار خواله وکو ډیرې د فراق شپې مې ګاللې دي

نور ریشاء د وصل هوس مه کوه
ستا دیار کوڅې لا نږدې لې دي

خوندي نسته

زندی سوی یم د غاړې خلاصیت نسته
په دې وخت کې هیڅ فرصت د ومیت نسته
د سرکښ ظالم په لاس کې مې بنارګ دی
مرګ مباح ګڼي پر قتل دیت نسته
څوک په دین کې جوړوي هره خوالاري
د الله پر خواو تګ ته یې نیت نسته
عبرت نسته غیرت نسته، حیا نسته
انصاف کوچ سو عدالت، خیریت نسته
مزه ولاړه څه بې خونده زندګي ده
په احبابو کې لا هیڅ مزیت نسته
څکه خلګ تلخګیو دي ګیر کړي
چې نن ژوند کې هیڅ مزه کیفیت نسته
ریشاء خوار د بدامنۍ منګولو کښې کښ
خود بهوایي چې د سرامنیت نسته

په ټوک یا ځیره ګزاره

آینده کې د ګلزاره امید پرې ســـو
غوړېدلی باغ مو وسوځېدلی پرې سو
هغه زړه چې له بنا دی به غوړېدلی
نن د غم په چاړه پرې کترې، کترې سو
پر نړۍ مې د خپل سر، سرلوړي غوښته
د دښمن په کنداغو زړې، زړې سو
چې جوګه یې تر آسمانه رســید لــه
ولې هغه ځوان پیچلی د بغرې سو؟
دلمانځه په صف کې زما تر څنګ ولاړ وو
نن هغه راځنه وغورځېد دوړې سو
د غمو پر راشه باندې به ناست وو
خپل نصیب یې یا د ټوک یا د ځیرې سو
ریښا غوښته پر د ښمن چې بری من سي
سو بمن نسو په میدان کې خرې په خرې سو

د ډالرو مریدان

د عزت د باغ ګلونه مې خزان سوه
له تنې څخه زخمي نو نهالان سوه
د غيرت شمله دارانو پناه وړوړه
چي په پېچه يې شين سترګي دښمان سوه
د غيرت نوم يې ګټلئ په کلوو
بې ننګي له ور روان په يوه آن سوه
په قرآن او احاديثو يې عمل وو
نن يوائې د ډالرو مريدان سوه
سمه لار د خداى يې پرېښوه کاږه سوه
ګنده خوړ غوندي کاږه سوه ياکاږګان سوه
نفقه يې د اولاد د چوړ د ماله
د سياه سرو د يتيم مال ته دزدان سوه
نغاړې چي د غيرت يې د ننګولې
نن هغه ولي د بل د کوړ مريان سوه
د افغان په تېرواته چي ريشا پوه سو
تېر يې ولګبد پر زړه وينه فوران سوه

بې سوره سازته اتڼ

د بقا د پاره څه امید واړې سته؟
چې په سر کې دې خیالونه سرداري سته
ډېر دلیري د ډاله آوازته غوړیږي؟
که ېر سترګو دې د ښموخارګیری سته؟
د اتڼ سره که ېینه سمه وانه خلي
سراسر پدې اتڼ کې بې سوري سته
که غربي لاره د ډول سره زغیږي
هنرمند ته یې هم لږ چانس د بري سته
و بې سوره ساز و ډول ته چې اتڼ وي
خوندېي نه وي صرف روپوته خاکسوري سته
پر وطن چې د بل ساز ته په نڅا وي
د ډېره دو د هیواد والو بېزاري سته
د پرون خبري نن ځکه دروغ دي
چې د سره یې په سر کې مرداري سته
سترګې پوهې کېدې غوږ کې پښه کښېږده
بله چاره ریښتانسته ناچاري سته

دغوښوا اکسیر

خپل ښارونه نړوي بیا ته تعمیر جوړ کړي ... بیا خوشحالږي خپل ځان ته ویر جوړ کړي
داسي یو ملت ماته راوښیا ست ... دوی چي د سوړتي څخه وزیر جوړ کړي
ولی وروړد وړوړد وینو تږی سي؟ ... ولی د آزاد انسان اسیر جوړ کړي
د غه لنګه غوا چا رانیولی ده؟ ... سړو کال چي کوچ جوړ کړي پنیر جوړ کړي
عقل یي د سره اول وباسي ... بیا له دي انسان څخه اجیر جوړ کړي
داسي مداریان تن په نړی کي سته ... ګوته باندي خلګو ته کشمیر جوړ کړي
دا رنګ تاثیري نسخې پیدا سولي ... غوښو دا انسان څخه اکسیر جوړ کړي
نسته د ریشا امید و بل چا ته ... بیله چي کارونه یي تقدیر جوړ کړي

جوال شکاف

په هر کار کي چي چا ودرلود انصاف ... هغه خلګ وي په خپلو زړو کي صاف
انصاف دار سړی عادل وي هم صادق ... بې انصاف لکه موږک جوال شکاف
وي
تېر ایستل د ده دګتي وسیله ده ... اوږد کمیس یي د دروا غو وي غلاف
صداقت یي تر موزو وي لاندي کړی ... خیانت د ده په ذهن وي معاف
د پنځوسو روپیو مال په سوو خرڅ کړي ... بیا نو هر کال ځي مکې ته کړي طواف
احتکار ته یي ساتلي وي مالونه ... خود جګیږي کال په کال دګټي ګراف

چي تر څو بې انصافان وي په جهان کي
د ریشا به ورسره وي اختلاف

خرامبو

په خوړک کې کړه احتیاط که صحت غواړې
کارکوه که دې د ژوندہ لذت غواړې

د هر چا سره اخلاص او صداقت کړه
که په واړه جامعه کې عزت غواړې

د خالق د مخلوقاتو سره ښه کړه
په رشتیا سره که ځان ته جنت غواړې

بې وسان او عاجزان تر لاسو نیسه
که په تش لاس کې دې زور وقوت غواړې

خوشي مه سه خرامبو چې تل خوړک کړې
چې وځان لره هم ناز هم نعمت غواړې

بې له ځانه څه د نوړ وغم هم وخوره
که د بل په غمخوړي کې شرکت غواړې

ریشا ستا نصیحتونه ډیر سودمند دي
ځکه خلګو لره خیر، برکت غواړې

ترنس کښته مزدوري

خپل ښارونه یې وبل ته کړه ایله
ځني پاته سول خپل کښبت وکرونده

دوی د بل پر ځمکه یوې ده ترلې
ځان یې خرځ کړی په نیم نس یوه ګوله

په دې ځمکې دوی وبل ته کړي آبادي
په اهلړ او د یخنیو په څله

اولادونه یې د لوږې اسکلیټ سوه
د بادار اولادې سول که بړه

د غه بده ورځ تنها د دهقان نده
هغه هم دې چې په یوه وې آراسته

دا د جهل نتیجه راغله افغان ته
لا ترکله به وې دې کار ته شله

د دې ټولو بدبختیو علت یو دی
اجنبي لاس دی، ریشا پس پرده

کږې لارې

د غمجنه حاله نلرمه دمه
یو ساعت یو ګړی نه یمه بېغمه

د ښادیو مجمې زما له کوره وزې
بې نصیبه سوم د هر قسم نعمه

په تیاروکي مي سفر د سیابختۍ سو
ور ښاته وتل ګران سوه د تور تمه

د ښادیو په کاروان پسي روان یم
مجبوري ده پسي ترمسجد مه

د سیالانو په دفتر کي یم نوم ور
کم کاتب یم اچولي له قلمه

نا امیده بې توښې تورو دروکي
قریب نسته شیطانان دي همدمه

د غم شپه ده تاریکه ده کږې لارې
ریښا غواړې چي پیدا کړي لاره سمه